# د افغانستان د ښارونو لپاره ملي ملاتړ

## ښاري ملي پالیسي (NUP) او د ځمکی فضايی جوړښت ملي ستراتیژی (NSS) په افغانستان کې د ښاري کیدلو د فرصتونو او ګټو ساتلو لپاره

د مباحثی داپاڼه، په افغانستان کې د ښاري ملي پالیسی (NUP) او د ځمکنی فضایی جوړښت ملی ستراتیژی ( NSS) د پرمختګ لپاره بنسټ جوړوی. معمولا" په ډیرو هیوادونو کې، د NUP او د NSS موخه دا ده تر څو د دولت ټولې کړنې داسې طرح شي چې د ښاري پیچلي او څو اړخیز ماحول او ځمکنۍ هر اړخیزې پراختیا سره توافق ولري. دا پاڼه د NUP/NSS اصول تشریح کوي او د افغان لومړني NUP/NSS ته د پرمختګ ښه لاره هواره وی.

د مباحثی دریمه پاڼه ، دوهمه سلسله، مارچ ۲۰۱۶

### د افغانستان ښاری پرمختیا ته لوری ورکول

افغانستان، د ډیرو هیوادونو په شان، کولای شي چې د چټک ښاري کیدو او ښاري ودې پر وړاندی له مزایاوو او فرصتونو څخه په پراختیایي کوښښونو سره ګټه واخلي.

دا ګټه اخیستل د بیلو او ځانګړو (compartmentalized) پالیسیو او کړنلارو په جوړولو سره نه شي تر سره کیدای.لازمه ده چه دولت په بیلابیلو برخو کې فعال ملاتړ تر لاسه کړی تر څو یوه همغږی شوی کړنلاره د افغانستان د ټولو ښارونو او ښارګوټو لپاره په لړو مالي او بشري منابعو پلان جوړ او مدیریت یې و شي.

اوس مهال د ښاري سکتور په اړوند ډیری پالیسیی شتون لري چه تر ډیره حده یوه له بلی سره متضادی دي ، نه یواځې پخپل منځ کې بلکه له نورو وزارتونو سره هم په ټکر کې واقع کیږي د بیلګې په توګه:

- د پراختیا ملي پالیسۍ او پلانونه داسی طرح شوی چه په عمومي توګه پر کار موندنی تمرکز وکړي او په ځانګړې توګه په ښارونو او کلیو کی له کار موندنی سره تړاو ونلري. له صنعتي ښارګوټو اویا صادراتی زونونو د وصل کیدو له فرصتونو څخه تر اوسه سمه ګټه نده اخیستله شوی .
- په کابل ښار کې د نوي حلقوي سړک جوړولو یوه سکتوري پریکړه که چیرې سکتوري ښاری پراختیایی پلان جوړول او د عمده ښارونو د کنترول میکانیزم په لوړه کچه ور سره مل نه وي کیدای شي چې دځمکو دسخت احتکار اومالی ګټو او همدا رنګه دښار د شاوخوا ځمکو د له لاسه تلو سبب شی.
- په پټو سترګو دادارو او قوانینو اصلاحات په پام کی نیول شوی چه نشي کولای د ښاري او کلیوالي ټولنو ځانګړې اړتیاوې په ګوته کړي او همدا ډول د مرکز په سطحه د ښاری ظرفیتونو په پالیسی کی محدودیتونه راولی.
- د کابل د پلان جوړونې د کارونو مرکزي کول په ټول هیواد کې د نورو ښارونو او ښارګوټو د پلان جوړوني د مرستي پر وړاندي د خنډ لامل کیږي.

د ښاري کولو د پرمختګ مسیر لپاره کلیدي لاره داده تر څو د پالیسی یو پراخ کاري چوکاټ او ځمکنۍ ستراتیژي رامنځته او خوندي شي.
د ښاری ملي پالیسي او فضایی ستراتیژی/پلانونه د دې یو کلیدي بنسټ جوړوی.

### لومړی بکس: دافغانستان لپاره د ښاري ملي پالیسۍ مهم ټکی: " د خلکو ښارونه"

دمتنوع او پراخ بنسټه افغانی ټولنی د ښارې اړتیاوو په ګوته کول د ګډې پالیسۍ او ښاري فعالیتونو پواسطه د ټولو ښاریانو لپاره اود ټولو ښاریانو پواسطه باید ترسره شي تر څو مصون، مرفه ، مناسب ښارګوټي او عادلانه افغاني ټولنې ولرو.

دا هرمی دیاګرام د نفوسو په طبقه بندی کی چه بیلابیلی احتمالي ډلی شیی چې په ښاري استوګنځایونو او ټولنو کې ژوند کوي. د هرم په شاوخوا کی دوه مهمی حلقی/کړی ښودلی شوی دي. لومړنی حلقه (تور رنګه) د NUP اړتیا څرګندوي چې په مساوي توګه د ا اړتیا په دریو (۳) عمده اصولو تمرکز پیدا کوی یعنی د ټولو ښاریانو لپاره لومړنۍ اړتیاوې عبارت دي له، خوندي سرپناه، خواړه، پاکې اوبه برښنا، پاکوالی، روغتیایي پاملرنه او لومړنی زده کړې باید خوندي شي. که څه هم، په تاریخي توګه یو ښار د "د ښار لوړو اړتیاوو" په توګه تعریف شوی دی، لکه: لوړو زده کړو، تخصصي روغتیایي خدمتونو، د کورونو بیلابیل ډولونو، پرمختللي هټۍ او د کارموندنې فرصتونو ته آسانه لاسرسی، ښاري کلتور، ښاري تفریح، ښاري ټرانسپورټ، د ښار پارکونه او داسې نور.

ډیر هغه خلک چې دې "ښاري ټولنو" ته لاسرسی لري، ښار په هماغه اندازه سوکاله وي. په پای کې، سیمه ییز او مرکزي حکومت هم اړ دی تر څو د ښاري خلکو او ټولنو "ښاري آرمانونه" د متشبثینو یا د ټولنیزې تصدۍ یا غیر دولتي ادارو (NGO) په واسطه پوره کړي. دوهمه دایره چې (سور) رنګ لري د افغان "ښاري پالیسۍ" شفاهي طرح څرګندوي چې په منسجمه توګه په "ښاري ستراتیژیو" کې قرار لري، چې د یو لړ ستراتیژیکو فعالیتونو پواسطه پلي کیږي. دا قوي شراکت ته اړتیا لري، کوم چې وکولای شي چې په "ښاري منشور" کې له یو لړ ګډو فعالیتونو سره تحرک وکړي او د ټولو لاسلیک کوونکو ډلو تر منځ مسؤولیتونه په شفافه توګه وویشل شي، د خصوصي سکتور، مدني ټولنې او اکاډمۍ په شمول. د دیاګرام منځنې برخې ته په مراجعی سره ، مونږ کولای شو چې د "خلکو د ښارونو" داستان جوړ کړو، چې د افغان له بریالي کیسې "د خلکو پروسه" څخه یی الهام اخیستی دی، کوم چې لومړي په نښه شویدی چې په افغانستان کې ښاري نفوس محروم پاتې شوی دی.



## ښاري ملي پاليسي څه ته وايي؟

د دوامداره ښاري پرمختګ تحقق هماغه ذی دخلو ادارو تـه د يـوې مشـارکتي پروسـه لـه طريقه اړتيا لـري، لنډ مهاله ښاري پاليسي لا ډېر ټولنيز شموله، غوره يوځای والی او نښلول شـوي ښارونه کـوم چې د اقليم د بدلون پر وړاندي زيان منونکـي دي يـو مـلي سيسـتم تـه وده ورکـوي. لـدې کبلـه، د ښـاري مـلي پاليسي (NUP) يـوه اړينـه وسيله ده چې د دولتونـو پـه اختيـار کـې قرار لـري تـر څـو د ښـاري کـيدل اداره او لارښـوونه وکـړي، او ښـاري کـيدل مثبت اغيز تـه واړوي، کله چې خپل حتمي ټينګار مطلوب کـوي. د UN-Habitat پـر اسـاس، يـو ښـاري ملي پاليسي عبـارت دی لـه[1]:

> "يو لړ منسجمې پريکړې چې د حکومت په مشرۍ د همغږي کولو پروسې په نتيجه کې رامنځته شوی دی او بيلابيل کار کوونکي يې د عمومي ليد او موخې لپاره را غونډ کړيدي چې لاډير بدلون، مثمر، مشمول او اوږد مهال لپاره مقاومت منوونکی ښاري پرمختګ ته به وده ورکړي."

يـو (NUP) بايـد ښـاري پـلان جوړونـه، قانـوني کاري چـوکاټ او مـالي وسـايل پـه يـو همغږي طريقې، پـه مـلي، سـاحوي او سـيمه ييـزې کچـې پـه ګوتـه کـړي. ښـارونه، کـه چيرې د مـلي دولـت لخـوا ورسره مرسـته وشي، لـه مـلي اقتصـاد، ټولنيـز تحـرک او دوامداره ايکـو سيسـتمونو سره بـه سـتره مرسـته وکـړي. لـه بهرنيـو تجربـو څخـه زده کـړه، د NUP څنـې اصـول عبـارت دي لـه: ګـډون (مشـارکت)، شـموليت، د پـلي کيـدو وړ، د انـدازې وړ، ارزانـه (د قيمت-اغيزمنتيا او سرچينـې)، عمـلي، عمـل لرونکي او د خلکو متمرکـز کيـدل.

## يوه ځمکنی ملي ستراتيژي څه ته وايي؟

يـو (NSS) د ځمکـې يـا د هيـواد پـه کچـه د ښـاري او کليـوالي مـلي پاليسـيو لـه ځمکنـي څخـه ترکيـب شـوی دی. پـه بـل عبـارت، کـه چيـرې يـوه سـتونزه يـا د حـل لاره د ځمکنـي ځانګـړي طريقـې پواسـطه منسـوب کيـدلای نـشي، نـو بايـد پـه NSS کـې ذکـر نـشي. لـدې کبلـه NSS بايـد يـو پرځـای تشريـح شـوی او مشـترک سـند وي چـې مـلي سـتراتيژۍ تعييـن کـړي تـر څـو د غـوره ځمکنـی تعـادل او کيفيتونـو تـه پـه ښـاري او کليـوالي سـاحو کـې ورسـيږي، چـې بايـد پـه واضحـه توګـه پـه NSS تشريـح شـوی وي.

د NSS نـورې ځانګړتيـاوې – د نړيـوال غـوره عمـلي کارونـو پـر بنسـټ – عبـارت دي لـه:

- اوږد مهاله لرليد (۲۰-۵۰ کلونه)؛
- د فرا حوضوی/فرا منطقوی/لوی نظريې لرليد – په سروې پورې تړاو لري؛
- انتخابي لرليد ) چې لـه سـتراتيژيکو لومړيتوبونـو څخـه يـې سرچينـه اخيسـتی وي) – يواځې د ملي ارزښـت پـلان شـوې بدلونونـه ځرګنـدوي؛
- د ځمکې اړونـد مفاهيـم تـر څـو د ځمکې پـه ارتبـاط کړکيچـن واقعيتونـه او د خوښې وړ بدلونونـه راولـي؛
- د ځمکې کيفي او کمي موخې؛
- له قانوني او مالي کاري چوکاټونو سره مطابقت؛
- د دولت يا پارلمان پواسطه تاييدول – په ټولو وزارتونو، ولايتونو او ښارواليو کـې نافذ او لازم الاجرا وی – د ښـاريانو لپاره الزامي نـه وی؛
- د متعددو-ذينفعـو ادارو او عوامـو شـموليت د عامـه پوهـاوی او مشـورې لـه لارې؛
- د ويلو وړ – قوي شرح او په ښه توګه يې توضيح کول.
- پـه اصـل کـې، يـو ځمکنـی مـلي سـتراتيژي بايـد پـه مـلي کچـه د ځمکنـی پوانکشـافي لرليد رامنځتـه کـړي، پـدې توګـه د کاري چـوکاټ پـه شـان د زون او د ښار-سـاحوي پـلان جوړونـې او پـه همـدې توګـه د ښـاري مـلي پاليسـی د ټولو اړونـدو اړخونـو کار کول – کلـه چـې د ښـاري مـلي سـتراتيژيو او فعاليتونـو سره پرتلـه کيـږي.

د ځمکنـی مـلي پاليسـي (NSS) بايـد د ښـاري مـلي سلسـله مراتبـو لپـاره، د ښـاري سـاحو، ښـاري شـبکو، مـلي - سـاحوي ټرانسـپورټي جريانـو او ايکـو سيسـتمونو لپـاره د مـلي ارزښـت لرونکـی طبيعـي سرچينـو د خونـدي کوونکـو سره يـو پـلان تشـخيص او جـوړ کـړي او وروسـتي اد چـه کوچنيـی ښـاري-کليوالي شراکتونـه هـم لـه نظـره نـه وزی سره تـر څـو د ټـول هيـواد د ځمکنـي (سـيمه ييـز) تـوازن پراختيـا تـه وده ورکـړل شي.

| هغه څه چه د NUP او NSS لپاره بايد ترسره او تر سره نشی | |
|---|---|
| **ترسره کول** | **نه ترسره کول** |
| • د ګډون او مشورتی پروسې له لارې د NUP/NSS پراختيا کول تر څو مالکيت او تطبيق خوندي شي. | • د پروسې ډيريدل او د پاليسي او پلان د طرح کولو د سندونو بهر ايستل. |
| • د ټول حکومت طريقې جوړول. | • يواځې د "ښاري سکټور" وزارتونو شاملول. |
| • د ښار ټولو ساحو پکار اچول، دا مرکزي ښار دی او د مرکزي ښار د کاري او يو ځای شوي پرمختګ لپاره د چاپيريال اړتيا ده. | • يواځې د کابل پر ښار د پايتخت په توګه تمرکز کوي: له ټولو ا ښارونو او ښارګوټو سره پکار اچول کيږي. |
| • د دولتي ادارو، نيمه ملي دولت، د غير دولتي ښاري همکارو ادارو لکه نهادونو، غير دولتي ادارو، تجارت، ټولنه، اکاډمي او کلتوري سکټورونو پکار اچول. | • دNUP او NSS د طرح کولو پر مهال يواځې د دولتي چارواکو شاملول. |
| • له ملي، سيمه ييز او د مالي مرسته کوونکي سره مطابقت. | • ټوټه ټوټه طريقې ته اجازه ورکول چې د مالي مرسته کوونکي د نه همغږي شوې بوديجې پواسطه ځانګړې شوې وي. |
| • له بهرنيو تجربو څخه زده کول. | • د بهرنيو پاليسيو کاپي کول. |
| • د يوې داسې پاليسۍ طرح کول چې لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله فعاليتونه او اندازې پکې ځای پرځای شوی وي. | • پاليسی او ستراتيژۍ ته د لنډ مهاله او سياسي لاسته راوړنې لپاره پراختيا ورکول. |
| • د ظرفيتونو او مهارتونو لوړولو لپاره د عملي کارونو شاملول تر څو پاليسۍ او ستراتيژۍ ته پرمختګ ورکړل شي او پلي (تطبيق) شي. | • د تطبيق له پلان څخه پرته د پاليسی او ستراتيژۍ تصور کول چې ظرفيت (بوديجه، بشري او بنيادي) او خبرې اترې تر پوښښ لاندې نيسی. |

[1] 'National Urban Policy: A Guiding Framework', UN-Habitat, 2015

## دو هم بکس: د یوی ځمکنی ملي ستراتیژۍ طرح: دافغانستان لپاره یو ځمکنی ښاري- کلیوالي تړون

یو NSS د شته طبیعت، بنسټونو او بشري استوګنه پیژني او هڅه کوي تر څو په ستراتیژیکي طریقې سره یې جوړ کړي تر څو ښاري ودې او مستقیمې بنیادي پانګونې ته لارښوونه وکړي کله چې طبعي سرچینې خوندي او پیاوړي کیږي.

یوه لاره چې د افغان ملي ځمکنی پیچلي خندونه او فرصتونه پرانیزي د دري (۳) اساسي جوړښتیزو طبقو ته توپیر ورکول دي (دیاګرام ورګوری)[2]. دا کولای شي چې لومړني افغان NSS د جوړښت اساسي محتویات مخ پر وړاندې جوړ شي له لاندې ذکر شویو ځمکني وسایلو او د ملي ګټو له جوړښتونو سره:




- ستر سیندونه او جهیلونه د خپلو اړوندو ډنډونو او ښاري مرکزونو سره، د یو قوي فرامیلي او له سرحده-هاخوا اجزاوو په شمول؛
- ملي پارکونه او ایکو سیستمونه (د غرونو په شمول)، ډیری وخت د عمومي سیندونو او جهیلونو د پوښښ په توګه، مګر د یو ملي خوندي ساتنې له حالت سره او د بشري فعالیتونو داجازه ورکوونکي محدودیتونه او له بشري استوګنځایونو سره د هغوی تړاو؛
- د خوراکي توکو تولید او ښاري او کلیوالي پرمختګ، د ښاري او کلیوالي د ودې قطبونو د پیژندلو په شمول؛
- د اقتصادي سکتورونو ځمکنی ویش په توله سیمه کې؛
- د طبیعي سرچینو ویش او له ښارونو سره د هغوی تړاو؛
- د خلکو او توکو لپاره د ټرانسپورټ بیلابیل موډل او ټرانسپورټي شبکې، له سرحده هاخوا فرامیلي محورونه او جریانونه؛
- د ښاري پرمختګ په اړه د ارتباطي جریانونو ویشل، صنعتونه او د دندې متمرکز کول؛
- د ښاري غیر متمرکز پرمختګ او د ښارونو او وظیفو د مراتبو سلسله د ملي ښاري ساحو، د پایتخت کابل د اوسیدونکو د ساحې، د ودې اضافه قطبونو او له سرحده هاخوا دروازو په شمول؛
- د انرژۍ جریانونه او د ملي ارزښت بنسټ؛
- توریزم او تفریح، د کلتوري او طبیعي میراث د ساتنې په شمول؛
- د طبیعي او د ناورین خطرونو ته مایلې ساحې او زیانمن شوي استوګنځایونو.

په ښاری پلانګذاری کی بین المللی لار ښودنی د ملګرو ملتونو هیئتات د رهبری شورا له خوا په اپریل ۲۰۱۵ کال کی نشر شوی چه د NSS او په دی لارښودنوکی د سیمی په کچه په پلانګذاری کی د ګډون او مشارکت په قاعدو او اصولو ټینګار شوی دی. او پلانونو انکشاف لپاره دغه لار ښودنی کولای شی د پایښت لرونکی انکشاف د موخو په تطبیق کی د پایدار،مصؤن او ښه ښار د جوړولو تر عنوان لاندی مرسته او ښه لار ښوونه وکړی[3].




[2]The three layer approach was first applied by the Dutch Government in its Fifth National Spatial Planning Memorandum, 2001
[3]'Sustainable Development Goals', see http://www.un.org/sustainabledevelopment/sustainable-development-goals/
[4]'The Evolution of National Urban Policies– A Global Overview', UN-Habitat & Cities Alliance, 2014
[5]'National Spatial Frameworks – Lessons learnt from international experiences', UN-Habitat internal report, 2014
[6]'National Urban Policies – A Guiding Framework', UN-Habitat, 2015

### دریم بکس: د نورو هیوادونوڅخه تجربې

د ښاري ملي پالیسۍ نه یواځې چې د هیوادونو تر منځ توپیر لري بلکې په تدریجي توګه د لومړیتوبونو او ښاري پرمختګ له پلوه هم توپیر لري. د نړۍ په شمال کې ډیرو هیوادونو خپل NUP/NSS د صنعتي کولو او ښاري کولو په اساس طرح کړیدي، پداسې حال کې چې د نړۍ جنوبي هیوادونه پالیسۍ داسې طرح کوي چې له کلیو څخه د ښاري کیدلو په لور لارښوونه وکړي. ځنې آسیایي هیوادونو داسې پالیسۍ رامنځته کړیدي چې هم د صنعتي کیدو اوهم د ښاري کیدو د ترکیب لارښودنه کوي. ډیر هیوادونه په دی تمرکز کوي چې په تدریجي توګه له ښارونو څخه ښاري-ساحو او مرکزي ساحو ته بدل شي، د ډله ییزو پریکړه کوونکو او د همکارو ادارو په ګوته کول تر څو ملي پلانونه او ځمکني ستراتیژۍ پلي کړي. پدې وروستیو کې هیوادونه ډیر ټولنیز شمولیت او د ښاري خوښه پالیسۍ اولویت بندي کړي، د موندنو بیلګه، په ښارونو کې د اقلیم بدلون او غیر عادلانه وده. ډیرو هیوادونو خپله پاملرنه د سړکونو جوړولو او نورو بنسټونو څخه د چاپیریال په خوښه ټرانسپورټي پالیسیو په لور بدل کړي دي، د یو اساسي باکیفیته عامه او غیر-موټوري ښاري او مرکزي ټرانسپورټ د بدلون په شمول. په آسانه د کور جوړولو د مهمې ستونزې په اړه په نړیوال پالیسي کې شتون لري چې له جلا شوي mono-functional لوړ اپارټمانونو څخه په سمه توګه نښلول شوي د کور جوړولو واحدونو ګډ-کارول شوي تراکم ته بدل شوی دی، چې په همدې توګه د یوې داسې پالیسۍ درلودونکی دی چې شته غیر رسمي استوګنځایونو ته پرمختګ ورکوي.

دافغانستان لپاره د لاتینی امریکا د ځینو هیوادونو ښاري ملي پالیسۍ او ځمکني ستراتیژۍ الهام بخښونکي دي، لکه: کولمبیا، چلي او برازیل، او همدا راز په افریقا کې ،د ایتوپیا، جنوبي افریقا او رونډا: او په آسیا کې دځنی نورو ځایونو، لکه جنوبي کوریا، مالیزیا، چین او هندوستان. د ښارونو د یو تړون/ UN-Habitat راپور دا او نوري بیلګې لا ډیرو جزئیاتو سره سپړي، [4] پداسې حال کې چې د UN-Habitat بل راپور هم د NSS په اړه نړیوالې تجربې وړاندې کوي، د مواردو په شمول، د بیلګې په توګه: جنوبي کوریا، چین، مالیزیا او مراکش[5]. د ډیرو الهام بخښونکو عملي کارونو پر اساس UN-Habitat د NUP لپاره یوه لارښوونکي پروسه رامنځته کړیده[6]. ډیاګرام د NUP د پړاونو ترمنځ اړیکه ښکاره کوي، په همدې توګه د NUP د دې ارکانو ونډې په نښه کوي. د NUP پړاوونه په خطی ډول ندې وړاندې شوي. د دې پر ځای، ډیاګرام د ټولو پړاونو د تداخل پر طبیعت/ګډ طبیعت تاکید کوي. د یوې انعکاس کوونکي او تکراري پالیسۍ د پروسې خوندي کولو لپاره، دا امکان لري چې د پړاوونو تر منځ په نرمۍ حرکت وکړي. لکه څرنګه چې د پروسې کیفیت بحراني دی، میتودولوژي او قانوني تنظیمولو (اداره کوونکي کمیټې، تخنیکي ډلې او داسې نور) ته اړتیا ده تر څو په مناسب وخت کې د سندونو چمتو کول او تائیدول اداره کړي.

دریم بکس: له نورو هیوادونو څخه تجربې




## راتلونکی تګلاری:

- څو-سکتوري NUP ، بیلابیلی-همکاره اداریاو ذی ربطه ګروپونه به اړتیا ولري تر څو د افغان ښاري خنډونه په ستراتیژیک او انتخابی ډول په ګوته کړي – د محدودو ظرفیتونو او مالي سرچینېو په نظر کی نیولو سره –عاجلو اود اجراء وړ کارونو ته لومړیتوب ورکړی،په داسی حال کی چه فعالیتونه په اوږد مهال او پراخ لرلید کی د افغانی ښارونواو ښارګوټو لپاره متمرکز وی.
- د NUS/NSS شین کاغذ په هکله آزاد بحث پیل شی او بحث لپاره پرانیستل کیږي، البته له هغو پیشنهادونو سره کوم چې لا هم د تشکیل په پړاو کې قرار لري – چې د ښاري NPP د کلیدي لوبغاړو پواسطه پیل کیږي؛
- د هر اړخیزي مشورې پر بنسټ، هغه عناصر چې یو سپین کاغذ د یوی مسودی لپاره مناسب دي د دولت لخوا د یوې رسمي پالیسۍ په توګه صادریږي، د تقنیني او اداري اصلاح د پیشنهادونو په شمول، کوم چې د نوي قوانینو له بحث څخه وړاندې یا کله چې د قانون تعدیل معرفي کیږي؛
- په موازي توګه د NSS پرمختګ/انکشاف د "ښاري" او "کلیوالي" د مطرح شویو تعریفونو په شمول، د ښاري او کلیوالي پالیسیو او د ځمکني ستراتیژیو د بشپړونکو په توګه.

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړیتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسیزه کی د افغانستان د ښاری لومړیتوب برخه وی دی لومړیتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتیژیکو ولسوالیو ښاروالی تحلیل او تجزیه کیژی چی مهم معلومات او دقیق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پالیسي او ملی پروګرامونو په ترتیبولو کی به وړاندیزونه وشی .

UN-HABITAT
FOR A BETTER URBAN FUTURE

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پانه یوازی د غیر تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د میشته کیدنی پروګرام په لیکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثیر، انتقال او یا د بیا پیدا کیدو سیستم کی وساتل شی. کوم تعریفات، ځیرنه، نتیجه ګیری او سفارشونه په دی نشریه کی د ملګرو ملتونود میشته کیدنی پروګرام د لارښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هیوادونو او یا د افغانستان، استرلیا او انګلستان حکومتونو د نظریاتو ښکارندونی نه دي.